**بسم الله الرحمن الرحيم**

## که چېرې يې توبه وکړه، لمونځ يې ادا کړ او زکات يې ورکړ، نو لاره يې خلاصه کړئ!

**(ژباړه)**

پر صحيح مسلم باندې د نووي په شرح کې د **"فإن تابوا وأقاموا الصلاة وآتوالزكواة فخلوا سبيلهم"** تر باب لاندې په کم بدلون سره داسې راغلي:

له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«أمرت أن أقاتل الناس حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله و أن محمدا رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة فإذا فعلوا ذالک عصموا منی دماءهم وأموالهم إلا بحق الإسلام وحسابهم على الله»**

**ژباړه**: *ماته امر شوی چې له خلکو سره تر هغه وجنګېږم، چې ووايي: لا إله إلا الله و أن محمدا رسول الله، لمونځ وکړي او زکات ورکړي! نو هر چا چې دا کارونه وکړل، نو ځانونه او مالونه يې له ما څخه خوندي کړل، مګر د اسلام په حق سره او حساب يې هم له الله سره دی.*

دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته په واضح ډول بيان کړي دي: «ما ته شوی چې له خلکو سره وجنګېږم، تر هغه چې ووايي؛ لا اله الا الله محمد رسول الله!» نو له کفارو سره مرسته مه کوئ او له هغوی سره ګډ ژوند مه کړئ! يعنې نه د ډيموکراسۍ په طريقه، نه د کليسا په ډول، نه د قوميت په مفکوره، نه په وطني اړيکه، نه د دولت-ملت په چوکاټ کې، نه د تئوکراسي دولت په شکل او نه هم په هېڅ يوه طريقه!

هو، پر الله سوګند زموږ درد دا دی، چې کفر په داسې حال کې وينو، چې خپله جامه يې بدله کړې، د مسلمانانو منځ ته داخل شوی او د مسلمانانو د ژوند په ټولو برخو کې لاسوهنه کوي. زموږ په کورنيو، بازارونو، سرکونو، دود و دستور، رواجونو، جامو، خوراک، څښاک، ناستي، ولاړېدو، تګ، خبرو کولو، سکوت کولو، ليدلو، فکر کولو، مجلسونو او حتی زموږ په جوماتونو کې هم مداخله کوي. زموږ د ژوند ټولو چارو ته لاس غځوي او د هرې غونډې او دسيسې تر شا زموږ پر وړاندې را پورته کېږي!

هو، زموږ درد دا دی چې دغه فاسق کفار زموږ تر منځ زموږ په جامه کې را څرګندېږي، زموږ په ژبه د قرآن خبرې کوي؛ په داسې حال کې چې تل د قرآن پر ضد جنګېږي! زموږ درد دا دی چې دوی د هغه مجلس په دننه کې چې د استازو مجلس يې بولي، وينو چې خبرې کوي او د امت پر ضد دسيسې جوړوي، نه د امت په ګټه! په الله قسم زموږ درد دا دی چې هغوی د سايکس-پيکو د معيارونو پر اساس د لوټمارو او لارشکوونکو په څېر را څرګندېږي او په هر ځای کې زموږ پر لاره کمين نيسي.

موږ نن ورځ له خپل ځان څخه پوښتنه کوو، ايا څوک شته چې په لوړ اواز چيغې کړي: «ما ته امر شوی چې له خلکو سره تر هغه وجنګېږم، چې ووايي؛ لا اله الا الله محمد رسول الله»؟ ايا نن ورځ مفاهيم او ارزښتونه بدل شوي دي، چې کفر په ټول فسق او فساد سره ځان د اسلام ځايناستی کړی دی؟

**اې مسلمانانو!** وروسته له هغه چې مسلمانانو خپل عزت، غوره‌والی، سیادت، نصرت، قدر او مقام، عظمت او دبدبه له لاسه ورکړي او د هغو کارونو له امله چې حکام یې ترسره کوي، مسلمانانو خپل دین پټ کړی او خجالت ورڅخه کوي؛ نو زموږ لپاره یوازې الله کافي دی او هغه د هرې ستونزې تر ټولو غوره حلوونکی دی. وروسته له دې چې مسلمانانو خپل مکلفیت چې نړیوالو ته د دین رسول دي، له یاده ایستلی، له داسې حالت سره مخ شوي، چې نه پوهېږي څه ډول له خپل دین څخه ساتنه وکړي! نو اې د مسلمانانو خلیفه! څه وخت راځې چې په هسکه غاړه ټوله نړۍ مخاطبه کړې او ورته ووایې: اسلام راوړئ چې خوندي پاتې شئ! له لوی رب او د عظیم عرش له څښتن څخه غواړو، چې دا ورځ ژر راورسېږي.

اې ربه، د نبوت پر منهج راشده خلافت ژر زموږ په برخه کړې، ترڅو د مسلمانانو درد ارام او له ظلم او تېري څخه یې خلاص کړي!
اې ربه دا ځمکه دې د خپل رحم او کرم په نور منوره کړه! آمین آمین!